# څوک چې د الله تعالی سره پداسې حال کې مخ شو چې هيڅ شی يې ورسره شريک کړی نه وي نو جنت ته داخل شو، او څوک چې ورسره مخ شو او څه شی يې ورسره شريک کړی [وي، نو اور ته داخل شو» [9

له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما څخه روايت دی چې وايي: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «څوک چې د الله تعالی سره پداسې حال کې مخ شو چې هيڅ شی يې ورسره شريک کړی نه وي نو جنت ته داخل شو، او څوک چې ورسره مخ شو او څه شی يې ورسره شريک کړی وي، نو اور ته داخل شو» [9].
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې څوک پداسې حال کې مړ شو چې له الله تعالی سره يې شرک نه وي کړی نو ورتګ يې د جنت لورې ته دی، که څه هم د ځينو ګناهونو سزا ورته ورکړل شي او څوک چې پداسې حال کې مړ شو چې له الله تعالی سره يې شرک کړی وي نو اور کې به تل پاتی وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3418